ICRC

د ۲۰۲۵ له جنوري څخه تر ډسمبره

# په افغانستان کې عملیاتي حقایق او شمېرې




## د روغتیایي خدمتونو ملاتړ

### لومړنۍ روغتیایي پاملرنه

**۴۷**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۴۷** د لومړنۍ روغتیایي پاملرنې مرکزونه د طبي وسایلو، درملو، غیرطبي تجهیزاتو او د راپور ورکولو په وسایلو سره سنبال شول.

**۱،۲٦۸،۳۴۳**

د افغاني سرې میاشتې په کلینیکونو کې **۱،۲٦۸،۳۴۳** ناروغانو لومړنۍ روغتیایي پاملرنه تر لاسه کړه، چې ٦۴,۱۲ سلنه یې ښځې او نجونې وې.

**۳۳۷،۷۸۸**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې په **۴٦** کلینیکونو کې **۳۳۷،۷۸۸** د واکسین دوزونه تطبیق شول.

**۹،۰٦۹**

د خوارځواکۍ سره مخ ماشومان د افغاني سرې میاشتې ټولنې د تغذیې له پروګرامه برخمن شول.

**۷**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۷** د لومړنۍ روغتیایي پاملرنې مرکزونه د **۱۱** بنسټیزو روغتیایي مرکزونو کارکوونکو ته د عملیاتي ساتنې عملي روزنې په ورکولو سره ارتقا ورکړل شوه، تر څو کاري شرایط ښه شي او ناروغانو ته د بهرنیو ناروغانو څانګو ته ښه لاسرسی برابر شي، چې دا کار د ورځې په **۵۹۴** مشورو ورکول کې ګټور تمامېږي.

**۵۳۰**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۵۳۰** کلینیکي او اداري کارکوونکو د روغتیایي ماموریت د درناوي او ساتنې په اړه د پوهاوي په غونډو کې ګډون وکړ.

**۵۱**

د آی سي آر سي د مالي او تخنیکي ملاتړ له لارې، د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۵۱** کلینیکي کارکوونکو ته د روغتیایي کارکوونکو د مسؤلیتونو او مکلفیتونو په اړه

**۳۹۸**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۳۹۸** کلینیکي کارکوونکو (**۲٦۸** مېرمنې او **۱۳۰** نارینه) د بېلابېلو روزنیزو پروګرامونو د ګډون او د مهارتونو د لوړولو لپاره مالي او تخنیکي ملاتړ تر لاسه کړ.

**۵۳**

د آی سي آر سي د مالي او تخنیکي ملاتړ له لارې، د افغاني سرې میاشتې ټولنې د کلینیکي کارکوونکو سره **۵۳** تخنیکي روغتیایي ناستې ترسره شوې، چې پکې **۴۸۷** کسانو ګډون کړی‌وو (**۳۴۴** نارینه او **۱۴۳** مېرمنې وې).



M. Samimi/ICRC

فضل احمد هاشمي، چې د افغاني سرې میاشتې ټولنې په یو کلینیک ډاکټر دی، د کابل په دشتِ برچي کې د افغان سرې میاشتې ټولنې په کلینیک کې هغه ناروغ معاینه کوي چې د ستوني له درد څخه کړېږي.

**۸ |**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې اته د لومړنی روغتیایي پاملرنې مرکزونه د چمتو درملیزو خوړو یا (RUTF) سره سنبال شول، تر څو د ناروغانو تغذیه لا ښه شي.

**۱۰۷،۲۷۸ |**

کسانو د ضروري درملو او مصرفي توکو څخه ګټه واخیسته؛ دغه توکي د بېلابېلو بېړنیو حالاتو په ځواب کې، لکه د راستنېدونکو اړتیاوې، د شدیدې اوبیزو نس‌ناستې خپربدل، زلزلې او سرحدي شخړې، د اړتیا پر بنسټ د افغاني سرې میاشتې ټولنې او نورو عامه روغتیایي مرکزونو ته ورکړل شوي وو.

**۹۲ |**

د تغذیې کلینیکي کارکوونکو او دوو د تغذیې مدیرانو د معاشونو لپاره مالي مرسته چمتو شوه.

## د روغتون پاملرنه

**۸۰۸،۲۰۵ |**

ناروغانو چې د خوست ولایتي روغتون، پکتیا حوزوي روغتون، د زندانونو د اداري اړوند **۵۰** بستریز روغتون، د بغلان ولایتي روغتون او د ترینکوټ ولایتي روغتون د بېړنیو څانګو ته مراجعه کړې وه، طبي توکي او تجهیزات یې ترلاسه کړل.

**۱۰ |**

د ټپیونو د درملنې **۱۰** کټورې (چې لږ تر لږه د **۳۰۰** ناروغانو د درملنې لپاره بسنه کوي)، طبي تجهیزات او نور ضروري توکي د پکتیا، بغلان، د زندانونو د اداري اړوند ۵۰ بستریز روغتون، خوست او ترینکوټ روغتونونو ته ورکړل شول، تر څو د روغتیایي بېړنیو حالاتو پر وړاندې د هغوی د چمتووالي وړتیا لوړه شي.

**۲۰۵ |**

روغتیایي کارکوونکو د بنسټیزو بېړنیو خدمتونو یا (BEC) په **۱۲** روزنیزو کورسونو کې ګډون وکړ، چې موخه یې د ټپیانو ثبات، درملنه او سم مدیریت وو. د دې بهیر د دوام لپاره، له دغو کسانو څخه **۵۱** تنه (چې **۲۵** یې ښځې وې) د روزونکو د روزنې په څلورو ورکشاپونو کې ګډون وکړ او د روزونکو په توګه وروزل شول. دا روزنې د عامې روغتیا وزارت په همکارۍ تنظیم شوې، تر څو د روغتیایي کارکوونکو بنسټیز بېړني مهارتونه پیاوړي شي.

د میرویس **۶۲۰** حوزوي روغتون لپاره د هایبرډ لمریز برېښنا سیستم (دوهم پړاو – د UPS بیا طرحه) د مهمو څانګو لپاره نصب شوه، تر څو د برېښنا د نه پرې کېدونکي سیستم دوام، او د اړینو څانګو لپاره د احتیاطي جنراتورونو اغېزمن ملاتړ تضمین شي.

د خوست د **۱۵۰** بستریز ولایتي روغتون د بېړنیو څانګو د ترياژ ساحه ورغول شوه او د اوبو رسولو سیستم یې ښه شو؛ دغه چارې د بېړنیو روغتیایي خدمتونو د زیربنایي معیارونو سره سم بشپړې شوې.

د ډله‌ییزو تلفاتو د مدیریت پلانونه د خوست او ترینکوټ لپاره نوي او تازه شول، د پکتیا لپاره تخنیکي ارزونه ترسره شوه، د بغلان لپاره د عملي کارونې په موخه وژباړل شول، او د OPA د **۵۰** بستریز روغتون لپاره د دغو پلانونو د لومړني جوړولو بهیر د توقیف ځایونو کې د روغتیا (HiD) له ټیم سره په همغږۍ پیل شو. دغو مداخلو د سیستم په کچه چمتووالی، د څانګو ترمنځ همغږي، او د ناڅاپي ډله‌ییزو پېښو پر مهال د ظرفیت لوړوالی پیاوړی کړ.

## روغتيايي ښوونه

**۹** | د غضنفر د روغتيايي علومو انستيټيوټ  د نهو ځانګو ملاتړ د ۲۰۲۵ کال د مارچ تر ۳۱مې پورې دوام وکړ، تر څو د روانو لګښتونو پوښښ وشي او د نرسانو، قابلو او روغتيايي تخنيکرانو د روزنې بهير پرله‌پسې روان پاتې شي.

**۱،۴۳۴** | (BEC) روزنيز کورس وړاندې شو.

**۲۷** | د غضنفر انسټېټيوټ **۲۷** روزونکو ته د بنسټيزو بيړنيو خدمتونو

## لومړنۍ مرستې او د روغتون څخه مخکې خدمات

**۷۷۹** | د بيلابېلو ولايتونو **۷۷۹** لومړني ځواب کوونکي په **۵۳** روزنيزو ناستو کې وروزل شول، او هر ګډونوال ته د لومړنيو مرستو يوه کڅوړه ورکړل شوه.

**۸** | د کابل د امبولانس خدمت د پياوړتيا لپاره، د پرزو د مرستې له لارې د ISUZU **۸** امبولانسونه فعال او د خدمت جوګه شول.

## بيړنۍ غبرګون

**۳۵،۰۰۰** | څخه زياتو کسانو د بيړني غبرګون له لارې مرسته تر لاسه کړه. دا مرستې د افغاني سرې مياشتې ټولنې په همکارۍ، د اوبو د لاسرسي د ښه کولو او د بنسټيزو اړتياوو د پوره کولو لپاره د اړينو توکو د وېش له لارې هغو راستنېدونکو ته برابرې شوې چې له ايران څخه راستانه شوي وو، او همدارنګه د افغانستان–پاکستان د شخړو له امله د کندهار او خوست اغېزمنو شويو خلکو ته ورکړل شوې.

**۳۶۹** | د بيړنيو ټپونو د درملنې کڅوړې او څلور د وسلو له امله د ټپي شويو کسانو ځانګړې کڅوړې روغتونونو او د لومړنۍ روغتيايي پاملرنې مرکزونو ته وسپارل شوې، تر څو د ډله‌يزو تلفاتو او نورو روغتيايي بېړنيو حالاتو ته ځواب ووايي؛ دغو مرکزونو له دې لارې له **۳،۰۳۷** څخه زيات ټپيان درمنه شول.

د کونړ د زلزلې په ځواب کې، چې د ښځينه روغتيايي کارکوونکو کمښت راپور ورکړل شوی وو، د عامې روغتيا وزارت سره په همغږۍ، **۷۰** ښځينه روغتيايي مسلکي پرسونل د دوو مياشتو لپاره وګمارل شو او مالي ملاتړ يې تر لاسه کړ. په دې ډله کې قابلې، نرسانې، ډاکترانې، رواني–ټولنيزې سلاکارانې، متخصصې او مرستندويه کارکوونکې شاملې وې. يادې ډلې په اړينو درملو او طبي تجهيزاتو سنبالې شوې، تر څو د بيړنيو، مور او ماشوم، او رواني–ټولنيزو روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو له لارې **۸۴،٦۷۴** د زلزلې له امله اغېزمنو شويو کسانو ته خدمت ورسوي. په دې لړ کې **۲۷۰،۰۰۰** ښځې د مستقيمو ګټه‌اخيستونکو په توګه، او **۵۴۴،۰۰۰** د کونړ اوسېدونکي د غيرمستقيمو ګټه‌اخيستونکو په توګه ثبت شول.

## د کونړ زلزلې ته د ځواب ورکولو پروژه

**۲۴،۰۰۰** | د زلزلې له امله تر **۲۴،۰۰۰** زيات کسان، په شمول د ليرې پرتې غرنۍ سيمو او د کورنيو بې ځايه شويو کمپونو اوسېدونکي، د آی سي آر سي په همکارۍ له افغاني سرې مياشتې ټولنې او د سره صليب او سرې مياشتې نړيوال فدراسيون نورو برخوالو سره، د بيړنيو او د ژر بيا رغونې مداخلې له لارې ملاتړ ترلاسه کړ، تر څو خلکو ته د ضروري خدماتو او د ټولنې د مهمو زيربناوو خوندي لاسرسي بيا تامين شي.




آی سي آر سي د افغاني سرې مياشتې ټولنې سره په ګډه، په کونړ کې د زلزلې له امله د بې‌ځايه شوو وګړيو لپاره يو کمپ جوړ کړی دی.

# فزيکي بيا رغونې خدمات

**۲۱۸،۸۲۴**

ناروغانو سره د آی سي آر سي په ملاتړ اووه فزيکي بيا رغونې مرکزونو کې مرسته ترسره شوه، چې ۳۵٪ يې ښځې او نجونې وې.

**۹٦،٦۸۱**

کسانو په اووه مرکزونو کې د فزيکي بيارغونې دوره بشپړه کړه او په ټولنه کې د ګډون فرصت يې ترلاسه کړ.

**۱۸،۸۴۰**

نوي ناروغان ثبت شول (۴۲٪ ښځې او نجونې)، چې پکې ۱،۲۸۷ ناروغان (۲۱٪ ښځې او نجونې) شامل وو چې ترهګرۍ يا نورو ټپي کيدو له امله يې امپوټيشن (عضو پرې کول) ترسره شوي وو.

**۳۲،۹۰۵**

مصنوعي غړي او ارتوټيک وسايل جوړ شول.

**۳۵۳،٦٦٦**

فزيوتراپي ناستې ترسره شوې.

**۱۱،۲۰۲**

کورني ليدنې ترسره شوې ترڅو د **۲،۹۵۸** ناروغانو څخه ملاتړ وشي.

**۱،۷۴۳**

ناروغانو ته د کوچني پورونه ورکړل شول.

**۴۱۷**

ناروغانو ته مسلکي روزنه برابره شوه.

**۷۳۱**

د کونړ د زلزلې وروسته، **۷۳۱** ناروغانو (په شمول د **۱٦۷** ښځو) په ختيځ زون کې په بېلابېلو روغتونونو کې درملنه ترلاسه کړه، او **۳۸۰** مرستندويه وسايل هغو ته ورکړل شول چې اړتيا يې ورته درلوده.

**۱،۹۱۹**

معلوليت لرونکي کسان د پاکستان او ايران څخه راستنانه شوي‌دي.

**۲۵۹**

د پاکستان څخه راستنېدونکو معلوليت لرونکو کسانو شمېر **۲۵۹** دی، چې **۷۴** يې ښځې او نجونې دي.

**۱،٦٦٦**

د ايران څخه راستنېدونکو معلوليت لرونکو کسانو شمېر **۱،٦٦٦** دی، چې **۵۹۰** يې ښځې او نجونې دي.

**۱۸**

زده کوونکو (**۵۰٪** ښځې) د غضنفر انسټيټيوټ په مرکز کې د فزيوتراپي روزنه ترلاسه کړه. د حکومت له خوا د ښځو د لوړو زده کړو محدوديتونو له امله، د نجونو روزنه به په ۲۰۲۵ کې په کابل فزيکي بيارغونې مرکز کې دوام درلود.

د **۷٦** بستريز مزار فزيکي بيا رغونې مرکز کې د کاري شرايطو د ښه والي لپاره د تودوخې سيستم نصب شو.

د لښکرګاه فزيکي بيا رغونې مرکز د ښار د برېښنا شبکې سره وصل شو، او د **۷۰** بستريز مرکز د کاري شرايطو د ښه والي لپاره ضروري برېښنايي توکي او د نصب کارونه يې ترسره شول.




کوچنۍ منيژې د ماين په چاودنه کې خپله پښه له لاسه ورکړې وه او د مصنوعي پښې د ترلاسه کولو لپاره د آی سي آر سي د فزيکي بيارغونې مرکز ته راوړل شوه.


D. Rahimi/ICRC

د آی سي آر سي له لوري د هرات ولایت په مرکزي زندان کې بندیانو ته د ژمي مرستې وویشلې.

# د توقیف شوو کسانو سره مرسته

**۵۹**

په ټول هېواد کې په **۱۴** توقیف ځایونو کې **۵۹** لیدنې ترسره شوې.

**۱۳**

د زندان د مدیریت په اړه **۱۳** ورکشاپونه د **۳۰۰** څخه زیات زندان کارکوونکو او څارونکو ټیمونو لپاره تنظیم شول، چې په کې د زندان د مدیریت مهمې برخې لکه انضباط، مسؤلیت او څارنه د لوړ پوړو مدیرانو او کارکوونکو لپاره شاملې وې.

**۲۰،۰۰۰**

په **۱۲** توقیف ځایونو کې له **۲۰،۰۰۰** زیات زندانیانو ته د شخصي پاکوالي او صحي شرایطو د ښه کولو لپاره کټونه برابر شول.

د پلچرخي زندان **۵۰** بستریز روغتون سره د طبي او غیر طبي توکو، د دفتر موادو، او د ښځینه څانګې د ترمیم لپاره مرسته وسپارل وشوه.

**۲۰،۰۰۰**

په **۱۲** توقیف ځایونو کې له **۲۰،۰۰۰** زیات زندانیانو ته د ژمي کټونه ورکړل شول، ترڅو د سختې هوا سره د مقابلې توان پیدا کړي؛ او په **۵** توقیف ځایونو کې **۴،۰۳۰** زندانیانو د بسترو، توشکو او فرشونو د مرستې له لارې د ژوند شرایط ښه شول.

**۴،۳۰۰**

له **۵** توقیف ځایونو څخه له **۴،۳۰۰** زیات زندانیانو د کلینیکونو جوړولو، د ځایونو، د اوبو رسولو، صحي تاسیساتو او برېښنا سیستمونو د ښه کولو له لارې د ژوند شرایط

**۱۰،۳۰۰**

له **۷** توقیف ځایونو څخه له **۱۰،۳۰۰** زیات زندانیانو د پاکوالي او ساتنې کمیټو د بیا رغونې او د ضروري وسایلو او موادو د برابرولو له لارې ګټه واخیسته.

د هرات، کندهار (سرپوزه)، ننګرهار ولایتي زندانونو او د کابل توقیف کلینیکونو ته فرنیچر او بنستیز طبي تجهیزات برابر شول.

**٦٦،۵۵۲**

د آی سي آر سي په ملاتړ، په هرات او سرپوزه ولایتي زندانونو کې **٦٦،۵۵۲** طبي مشورې زندانیانو ته ورکړل شوې.

د سره صلیب نړیوالې کمېټې د کابل د مرکزي زندان له فارم څخه ملاتړ وکړ، چې د تخمونو، وسایلو او د کرنیز مدیریت په برخه کې د ظرفیت لوړولو فعالیتونو د برابرولو له لارې یې د **۵،۰۰۰** بندیانو لپاره سبزیجات حاصل وکړ. د سره صلیب نړیوالې کمېټې د خوړیز ځنځیر د څارنې د میکانېزمونو په پیاوړتیا کې هم مرسته وکړه.

**۱،۵۰۰**

په دوه توقیف ځایونو کې د خارښت یا سکیبیس د خپرېدو د ځواب په چوکاټ کې له ۱،۵۰۰ زیاتو زندانیانو سره د آی سي ار سي له لوري مرسته وشوه (د موادو او تخنیکي لارښوونو له لارې). د مرکزي چارواکو لپاره هم د ناروغۍ د کنټرول کمپاینونو لپاره درمل مرسته شوي چې په ټول هېواد کې ترسره شول.

**۵۴**

په ټول هېواد کې **۵۴** زندانیانو ته د فزیکي بیا رغونې خدمات وړاندې شول.

# د کورنيو اړيکو بيا ټينګول

**۱۵۵** |
لادرکه کسانو قضيې حل شوې او د هغوی ځای معلوم شو.

**۸** |
ويډيو ټيلی‌کانفرنسونه تنظيم شول او په ګوانتانامو کې د توقيف شويو کسانو او په افغانستان کې د هغوی کورنيو ترمنځ د سرې مياشتې د پيغامونو **۴۰** تبادلې ترسره شوې (چې پکې د کورنۍ لنډ معلومات شامل وو)

**۲۸** |
د سره صليب پيغامونه او اته سلامات (لنډ شفاهي پيغامونه) د توقيف شويو کسانو او د هغوی کورنيو ترمنځ تبادله شول.

**۲** |
کسانو د (ترېس ده فيس) آنلاين پلاتفورم له لارې خپلو کورنيو سره اړيکه ټينګه کړه.

**۳۱۴** |
توقيف شوي کسان د آی سي آر سي په ملاتړ د خپلو کورنيو سره وليدل.

# د ملکي خلکو ساتنه

موږ د ملکي خلکو د بشري وضعيت څارنې ته دوام ورکړی او کله چې اړتيا وه، په محرمانه او دوه اړخيزه توګه د وسله لرونکيو کسانو سره د هغوی د چلن په اړه اندېښنې شريکې کړې، تر څو د زيان مخه ونيول شي او د خلکو خونديتوب او وقار خوندي پاتې شي.

موږ په بېلابېلو ولايتونو کې ټولنو سره اړيکه کې يو، تر څو د هغوی اړتياوې او اندېښنې ښه درک کړو او د هغوی د کړاوونو د کمولو لارې چارې ومومو.

# د مړو عزتمنه مديريت

**۸۴** |
د افغانستان د **۱۸** ولايتي عدلي طبي څانګو **۸۴** عدلي طبي کارپوهانو د عدلي تخصصي روزنيزو غونډو او د حقوقي طب د څانګې د تخنيکي ټيمونو د ملاتړ ليدنو څخه ګټه واخيسته.

**۱۵** |
د پنځو عدلي طبي څانګو **۱۵** عدلي طبي کارپوهانو د آی سي آر سي په روزنه کې د عدلي عکاسي مهارتونه ترلاسه کړل.

**۲** |
د آی سي آر سي په کوربه‌توب دوه د حقوقي طب کاري ډلې ناستې وشوې، چې پکې د عامې روغتيا وزارت، د حقوقي طب رياست، او د ولايتي عامې روغتيا رياستونو غړي شامل وو، ترڅو په افغانستان کې د عدلي طبي لومړيتوبونو د حل لارې چارې وپېژني او پر پرمختګ يې کار وکړي.

**۳۱** |
ولايتي عدلي طبي څانګو او د حقوقي طب رياست ته **۷۴،۶۹۹** طبي او غير طبي توکي ورکړل شول. ځينو څانګو ته د اړتياوو د ارزونې پر اساس اضافي تخصصي تجهيزات هم برابر شول.

**۱۲** |
د کابل ښاروالی د دفن کولو خدمتونو **۱۲** کارکوونکو ته د مړو د خوندي او باوقاره مديريت په اړه روزنه ورکړل شوه.

**۳** |
د حقوقي طب درې تخنيکي ټيمونه د آی سي آر سي له لورې تمويل شول ترڅو د کونړ د زلزلې ځواب ورکولو کې مرسته وکړي، او همدارنګه د کونړ ښاروالی، د افغاني سرې مياشتې ټولنې، او د دفاع وزارت ته د عدلي موادو له **۱،۰۰۰** څخه زيات توکي وسپارل شول.




د آی سي آر سي له لورې د عدلي طبي رياست کارکوونکو ته د مړو/ اجسادو سره د باعزته چلن په اړه روزنيز ورکشاپ ترسره شو.




آی سي آر سي د پنجشېر ولایت په پریان ولسوالی کې پر ۳۵۰ بزګرانو د غلو د ساتلو سیلوګانې ووېشلې.

# له ټولنو سره مرسته

## ۱۵،۰۰۳

کورنیو (**۱۲۰،۰۲۴** کسان) باندې څو موخیزه نغدي مرستې ووېشل شوې تر څو د دوی عاجلې اړتیاوې پوره شي؛ په دې کې په عمده ډول د زلزلې اغېزمن شوي خلک، راستنېدونکي او د ښځو له کبله بې ځایه شوي کورنی شاملې وې.

## ۴٦۷

کورنیو (**۴،۵۲۲** کسان) چې د تاوتریخوالي یا د وسلو د پاتې شونو لکه نا چاودېدونکو توکو له امله متضرره شوي وو، مالي مرستې ترلاسه کړې ترڅو د اقتصادي زیانونو سره مقابله وکړي.

## ۳،۲۷۴

کورنیو (**۲٦،۱۹۲** کسان د آی سي آر سي د «د کار په بدل کې د نغدو پیسو پروژه» له لارې عاید ترلاسه کړ، چې په دې کې د کرنې زېرمناوو د بیا رغونې لپاره د اوبو کانالونو او ساتنې دیوالونو جوړول شامل وو.

## ۱۳،۴۹۹

کورنیو (**۱۰۷،۹۹۲** کسان) ته د کرنې د فعالیتونو د پراختیا په موخه چې خوراکي تولید لوړ شي، په دې موخه، کرنیزې نغدي مرستې ورکړل شوې.

## ۱،۸۰۰

بزګران د بلخ، هرات، ننګرهار، پکتیا، پنجشیر او اورزګان ولایتونو څخه غوره شول او د حاصل وروسته د ضایع کېدو مدیریت روزنه ورکړل شوه، او د غلې د ذخیرې لپاره فلزي سیلوګانې ورته ورکړل شول.

## ۲۴۸

کورنیو (**۱،۹۸۴** کسان) په **۱۱** ولایتونو کې نغدي مرستې او د سوداګرۍ مهارتونو روزنه ترلاسه کړه، چې پکې د مالي مدیریت بنسټونه، د بازار موندنې طریقې، د سوداګرۍ پلان جوړونه او محاسبې شاملې وې، تر څو د عاید ترلاسه کولو فعالیتونه پیل کړي.

## ۱،۴۰۴

حامله او شیدې ورکونکې ښځو ته په کندهار، پکتیکا او بلخ ولایتونو کې د آی سي آر سي د روزل شویو تولنیزو اړیکو له لارې تغذیې پوهاوی ورکړل شو، او میاشتنۍ نغدي ملاتړ یې هم ترلاسه کړ ترڅو د کم خوړنې مخه ونیسي.

## ۱۷،۰۰۰

کسانو په کندز ولایت کې د بریښنا ښه شوې عرضې څخه برخمن شول. سربېره پر دې، ضروري برېښنایي توکي او ټرانسفارمرونه برشنا شرکت ته په بغلان، هرات، مزار او اورزګان کې وسپارل شول، او د نصب کار به د د برشنا شرکت لخوا په ۲۰۲٦ز کې ترسره شي.

## ۷۷۵،۰۰۰

د چاریکار، فیض‌آباد، هرات، جلال‌آباد، کابل، کندهار، کندز، مزار او شین‌ډنډ ښارونو کې له **۷۷۵،۰۰۰** څخه زیات نفوس د نوي شوي زېربنا او د لمر بریښنا یا د عامه بریښنا شبکې له لارې پاکو اوبو ته لاسرسی وموند.

## ۱٦۰،۳۰۰

د کلیو **۱٦۰،۳۰۰** کسانو له **۷۸۰** ترمیم شویو دستي پمپونو له لارې په اورزګان او زابل کې، او د **۹** اوبو رسولو پایپ سکیمونو بیا رغونه، او د کاریز او د اوبو کانالونو پاکولو ۵ پروژې په کونړ، پنجشیر او پروان ولایتونو کې بشپړې شوې، پاکو اوبو ته لاسرسی لا ښه شو.

د اوبو او برېښنا خدماتو د ساتنې سیمه‌ایزو ټیمونو ته وسایل او مواد ورکړل شول، ترڅو په چاریکار، لښکرګاه، ګردېز، هرات، جلال‌آباد، کابل، کندهار، خوست، کندز، مزار او پروان کې خلکو ته د دوامداره اوبو او برېښنا رسونه یقیني کړي.

# له افغاني سرې مياشتې ټولنې سره همکاري

## له سرې مياشتې سره شوې مرستې

**۵۰**

د هېواد په کچه د بېړنيو چمتووالي او ځواب ويلو لپاره د افغاني سرې مياشتې ټولنې په مرکزي دفتر (کابل) کې **۵۰** کورنۍ خيمې ورکړل شوې.

**$**

د راستنېدونکو افغان کډوالو او سېلابونو او د کونړ زلزلې د ځواب لپاره، د افغاني سرې مياشتې ټولنې مرکزي دفتر ته د **۳۷,۵** ميليون افغانۍ بېړنۍ مالي مرسته وشوه.

**۲**

د بېلابېلو افغاني سرې مياشتې ټولنې ولايتي دفترونو او ځانګو ته دوه ګودام ډوله خيمې، يو د اوبو پمپ، يو روب هال، او اته کانټينرونه ورکړل شول.

**۱۷۳**

کارکوونکو د معاشونو، د **۴۲** دفترونو د عملياتي لګښتونو او کوچنيو بيا رغونې پروژو د ملاتړ لپاره مالي مرسته برابره شوه.

**۱۸**

د اداري د ملاتړ په چوکاټ کې، د افغاني سرې مياشتې ټولنې د مرکزي دفتر او ولايتي دفترونو کارکوونکو ته **۱۸** لپټاپونه او دوه پروجيکټورونه ورکړل شول.

**۱۸**

د افغاني سرې مياشتې ټولنې مرکزي دفتر ته د رينو ډستر موټرو **۱۸** ډوله سپېرپارټ (پرزې) وسپارل شول.

**۷**

د غزني ځانګې لپاره اووه بېلابېل برېښنايي توکي، چې پکې ايرکنډيشنونه، سکرينونه، هيټرونه شامل وو، ورکړل شول.

**۱۰**

افغاني سرې مياشتې ټولنې ته **۱۰** نوي د راډيو/مخابرې خونې تجهيزات ورکړل شول، چې پکې کيبلونه، انتينا، ټلسکوپيک ماسټونه او HF بنسټيز سټيشنونه شامل دي.

**۱۴۵**

د افغاني سرې مياشتې ټولنې د راډيو اړيکو د پراختيا لپاره **۱۴۵** VHF بنسټيزې، **۱۴۰** لاسي راډيوګانې، **۱۱** ريپيټرونه، **۱۴۴** HF ټرانسيورونه او نور اړونده تجهيزات ورکړل شول.

## د آی سي آر سي او افغاني سرې مياشتې ټولنې ګډې پروژې

د پروان په څلورو کليو کې له **۴،۴۰۰** زيات کسان چې په کليوالو سيمو کې ژوند کوي، د **۵۴۳** بايوسنډ فلټرونو د وېش له لارې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموند، همدارنګه د بلوچ پايپ سکيم پروژه پيل شوې او د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر تر پايه يې شاوخوا ۲۰٪ پرمختګ کړی دی.




د آی سي آر سي ټيم د کندهار ولايت په سپين‌بولدک کې د افغان سرې مياشتې ټولنې د راستنېدونکو کډوالو کمپ څخه ليدنه وکړه، تر څو له پاکستانه د راستانه شويو وګړيو وضعيت او اړتياوې وارزوي.

# د وړتیا لوړونې فعالیتونه

**۱۲**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د اوبو او حفظ الصحې د واحد **۱۲** کارکوونکو دوه روزنې ترلاسه کړې؛ یوه یې تخنیکي د اوبو رسولو روزنه وه او بله د WASH برخې روزنه، چې هدف یې د دې واحد په پلان جوړونه او د WASH پروژو پلې کولو کې د صلاحیتونو پیاوړتیا وه.

**۱،۰۱۹**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۱،۰۱۹** کارکوونکو او رضاکارانو (د مرکزي دفتر او څانګو څخه) په **۳۴** ورکشاپونو کې روزنه ترلاسه کړه، چې پکې د خوندي لاسرسي چوکاټ، د افغاني سرې میاشتې ټولنې او آی سي آر سي پېژندنه، رضاکارۍ او د اړیکو اړوند موضوعات شامل وو.

**۸،۳۷۲**

د خوندي لاسرسي چوکاټ څخه د ملاتړ په موخه، د افغاني سرې میاشتې ټولنې لپاره **۸،۳۷۲** بیرغونه او شاپنګ بکسونه او **۴۹،۵۰۰** مختلفو تبلیغاتي مواد لکه د کورتۍ نښان، قلمونه، کتابچې، دوسیې او کمپیوټر فلشونه تولید شول.

**۲۹۱**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د امنیت او خوندیتوب کارکوونکو د امنیتي خطر مدیریت په اړه روزنه ترلاسه کړه.

**۱۱۰**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ناورین مدیریت کارکوونکو او رضاکارانو په پنځو کورسونو کې ګډون وکړ (درې د اقتصادي امنیت د مرستې کورسونه او دوه د اقتصادي امنیت ماډل کورسونه) ترڅو په اړتیاوو ارزونه، د ګټه اخیستونکو ټاکنه او د توزیع مدیریت کې خپل مهارتونه لوړ کړي.

**۷۷**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر او اووه ولایتي دفترونو سره **۷۷** ستراتیژیکې او تخنیکي غونډې ترسره شوې.

**۱۲**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د امنیت او خوندیتوب د ریاست سره په ګډه د درې کلنۍ معیاري عملیاتي طرزالعملونه یا (SOPs) بیاکتنه او د نوي امنیتي پالیسۍ جوړولو لپاره **۱۲** ورکشاپونه ترسره شول.

**۸**

په بېلابېلو ولایتونو کې اته راډیو خونې د ضروري تجهیزاتو سره سمبالې شوې.

**۱۱**

د اووه حوزوي امنیتي افسرانو لخوا په اووه سیمه‌ییزو دفترونو کې **۱۱** امنیتي ارزونې ترسره شوې.

**۵۵**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې کارکوونکو د عملیاتو د همغږۍ په غونډو کې ګډون وکړ، چې په اووه سیمه‌ییزو دفترونو کې ترسره شوې.

**۱۸۶**

راډیو/ټلویزیوني اعلانونه د افغاني سرې میاشتې ټولنې د اساسي اصولو د ترویج او فعالیتونو د خپرولو لپاره تمویل شول.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې لپاره د نوې ویبپاڼې د پراختیا او ډیزاین ملاتړ وشو.

**۶**

په شپږو سیمه‌ییزو دفترونو کې شپږ رسنیزې لیدنې ترتیب شوې، ترڅو د افغاني سرې میاشتې ټولنې د مثبتو اغېزو په اړه عامه پوهاوی لوړ شي.

# د وسلو له ککړتیا سره مبارزه

**۲۱۰،۵۸۳**

په شپږو زونونو کې چې د وسلو له امله ککړې وې، **۲۱۰،۵۸۳** کسانو (**۱۳۰،۷۴۲** ماشومان، **۴۱،۸۵۱** نارینه او **۳۷،۹۹۰** ښځې) د افغاني سرې میاشتې ټولنې رضاکارانو لخوا په د خطر پېژندنه او خوندي چلن کې روزنه ترلاسه کړه.

د خطر پېژندنه او خوندي چلن ډیجیټل رسنۍ: د اړیکو څانګې په همکارۍ، د خطر پېژندنه او خوندي چلن فیسبوک کمپاین د وسلو د پاتې شونو پیغامونه په پښتو او درې ژبو کې د زلزلې له امله اغېزمنو ختیځو ولایتونو ته ورسول شول، د ۱۸ – ۵۰ کلونو عمر لرونکو مخاطبینو لپاره. دې کمپاین

د خطر پېژندنه او خوندي چلن د راډیو کمپاینونه: ۱- د ماین د نړیوال ورځې د پوهاوي کمپاین، او ۲- عمومي او بېړنۍ پیغامونه: د زلزلې د بېړني حالت خوندي پیغامونه په درې او پښتو ژبو کې د کابل، کونړ، ننګرهار او لغمان ولایتونو کې خپاره شول.

**۱،۸۶۰**

ټولنیزې اغېزمنې څېرې (لکه سپین ږیري، ښوونکي، ملا امامان...) چې په هغو سیمو کې ژوند کوي چې د چاودېدونکو توکو له امله اغېزمنې دي، د خطر پېژندنه او خوندي چلن روزنیزه غونډه کې ګډون وکړ.

**۲۰**

نوي رضاکاران د افغاني سرې میاشتې ټولنې روزل شول ترڅو د خطر پېژندنه او خوندي چلن غونډې وړاندې کړي، او د رضاکاران ټولګه یې **۱۲۰** کسانو ته ورسوله.

**۴۵۰**

د آی سي آر سي کارکوونکو او ۳۱۶ د افغاني سرې میاشتې ټولنې کارکوونکو په د کارکوونکو د خوندیتوب روزنیزو غونډو کې ګډون وکړ.

# د بنسټیزو بشرپاله اصولو او مقرراتو ترویج

**۷۴۳** |

د قانون پلي کوونکو او د وسله‌والو ځواکونو چارواکو د آی سي آر سي په روزنیزو غونډو کې ګډون وکړ. دې غونډو د بشردوستانه بنسټیزو اصولو، او د قانون پلي کوونکو چارواکو له‌خوا د قوې او وسلو د کارولو پر موضوعاتو تمرکز درلود.

**۷۰** |

تنو د پوهنتون استادانو، دیني عالمان او دولتي چارواکو په پنځو پروګرامونو (۴ په کابل او ۱ په کندهار) کې چې د اسلامي شریعت او بشري اصولو ترمنځ د همغږۍ په اړه وو، ګډون وکړ.


# عملیاتي اړیکې او د ټولنې ګډون

**۴،۴۶۲** |

د ټولنو مشرانو او نورو د آی سي آر سي د فعالیتونو په اړه **۱۹۴** معلوماتي غونډو کې ګډون وکړ.

**۹۰۰** |

مذهبي او د ټولنو مشرانو او د آی سي آر سي ارتباطي کسانو د روژه ماتو په **۳۲** پروګرامونو کې ګډون وکړ چې د ټول هېواد په کچه د آی سي آر سي په دفترونو کې دایر شوي‌وو.




## په افغانستان کې د آی سي آر سي اورتوپیدک مرکزونه

**نښې:**

- د آی سي آر سي نمایندګی
- د آی سي آر سي فرعي نمایندګی
- د آی سي آر سي دفتر
- د آی سي آر سي اورتوپیدک مرکز
- د آی سي آر سي آنتن
- ولایت
- د شمال زون
- مرکزي زون
- سویل زون
- لویدیځ زون

**Sources:** Open Source
**Date:** 1/15/2025
**Prepared by**: Hashmatullah Helali/WatHab/KAB/ICRC
**Validated by**: Abdul Wafi Nayebzai/COM/KAB/ICRC
**Doc:** KAB2500037_AF_THM_GOL_AfghanistanICRC Prsence2025_A4L_150125
**Distribution:** Internal

0 85 170 340
Kilometers



د لا نورو معلوماتو لپاره:
kabul@icrc.org

زموږ ویب‌پاڼه:

زموږ فیسبوک‌پاڼه:

زموږ ایکس پته:


د سره صلیب نړیواله کمېټه
مرکزي نمایندګي، کابل
۱۵ سرک، ۱ کوڅه، خلورم کور، وزیر اکبرخان،
کابل، افغانستان
اړیکه: ۰۰۹۳۷۹۹۵۵۰۰۵۵
برېښنا لیک: kabul@icrc.org
www.icrc.org


©ICRC, February 2026


ICRC


250/01.2026 Cover photo: ICRC